# د دوهم پړاو ټاکنې او د ځوانانو ناهيلي

لیکونکی: احسان رشیدي

که څه هم د ټاکنو خپلواک کمیسیون په وار وار دا ټینګار کوي چې د راروانو ولسمشریزو ټاکنو لپاره یې پراخ هراړخیز تیاری نیولی دی، خو بیا هم کتونکي د تیرو ټاکنو بهیر ته په اشارې سره وایي چې دغه د دوهم پړاو ټاکنې به هم له ستونزو سره ملې وي.

دوی وایي چې د تیرو ټاکنو څخه مخکې هم اړوندو چارواکو خلکو ته ډاډورکړی ووچې د ټاکنو په بهیرکې به دهرډول درغلیو او لاسوهنو مخنیوی وکړي، خو بیا هم ولیدل شول چې په پراخه کچه په کې لاسوهنې وشوې او پایله یې دا شوه چې ټاکنې دوهم پړاو ته وغزول شوې نو د دوی په وینا ځکه به دغه پړاو په ټاکنو کې ګډون ونه کړي.

۲۵ کلن احمد رشاد چې د کابل ښار یوتن اوسیدونکی دی او وایي چې په راروانو ټاکنو کې به هیڅ کله برخه وانخلي؛ ځکه چې په وینا یې هیڅ ګټه به ورنه کړي. دی وایي:" زه خو لیونی نه یم چې هم خپل ځان په خطر کې واچوم او هم بیا د ټاکنو پایلې بې مانا شي."

هغه وایي چې د لومړي پړاو ټاکنو ته ډیری خلک هیله من وو او داسې یې انګیرل چې ښایي وروسته له دغو ټاکنو د افغانستان وضعیت تر پخوا ډیر سمون ومومي او روانو بیلابیلو ستونزو ته د پای ټکی کیښودل شي، خو داسې ونه شول نو ځکه په وینا یې خلک اوس دې ته زړه نه ښه کوي چې په دوهم پړاو ټاکنو کې هم ګډون وکړي.

همدارنګه ۳۰ کلن یاسین د لوګر ولایت یو تن اوسیدونکی هم په دې اند دی چې د دوهم پړاو ټاکنې پایلې به هم رغنده ثابتې نه شي او بیا به هم د افغانستان شته ستونزې همداسې دوام ولري نو ځکه په وینا یې نه غواړي چې په دغو ټاکنو کې ګډون وکړي.

دی وایي:" زه خو شخصا په دغو ټاکنو کې ګډون نه کوم، ځکه چې لومړی ټاکنو کې مې برخه واخیسته خو کومه نتیجه یې ورنه کړه نو زه سل په سلو کې باور لرم چې د دوهم پړاو ټاکنې به هم هیڅ کومه نتیجه ورنه کړي او بل دا چې هیڅ یو کاندید مې هم په خوښه نه دی." هغه زیاتوي:" دغه ټاکنې نه بلکه پر خلکو باندې ملنډې وهل دي." یاسین هم دا وایي په دغو ټاکنو کې یې ګډون هیڅ کومه ګټه نه لري او په وینا یې دا هڅې بې ځایه خپل وخت تیرول دي.

دا یوازې رشاد او یاسین نه دي چې د دوهم پړاو ولسمشریزو ټاکنو ته هیله من نه دي او نه غواړي چې په کې خپله رایه وکاروي، بلکه په لسګونو ورته کسان شته چې د تیرو ټاکنو پایلو یې زړونه ور وهلي دي او نه غواړي په دوهم پړاو ټاکنو کې ګډون وکړي.



دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د علماو سراسری شورا بیا له افغانانو غوښتي دي چې د ټاکنو په دوهم پړاو کې دې برخه واخلي او خپلې رایې دې وکاروي. د هیواد علماو په مرکز او ولایتونو کې له ټولو هیوادوالو څخه په کلکه هیله کوې چې د ولسمشریزو ټاکنو په دوهم پړاو کې چې د لړم په ۱۶ مه به ترسره شي، فعاله برخه واخلي.

د افغانستان د علما د سراسري شورا د مشر تابه پلاوي غړي مولوي قیام الدین کشاف ویلي، دوی د ټاکنو ملاتړ کوي، ځکه چې ولس سولې ته نږدې کولای شي. ده ویل:" مونږ د ده وخت د غوښتنو په نظر کې نیولو سره هغه څه وړاندې کړي چې هغه د دې ملت لپاره د زخمونو د پټې ایښودو حیثیت لري.

اساسي ستونزه د افغان ملت بد امني ده، زمونږ غوښتنه دا ده چې دا حکومت د خدای په خیر راولي او راتلونکي حکومت باید د انتخاباتو په نتیجه کې راشي او لومړی باید د امنیت د تامین په برخه کې ګام واخلي. مولوي کشاف دا هم ویلي دي چې د علماو شورا د ټاکنو وروسته له منتخب ولسمشر څخه هیله کوي، چې د کار په پیل کې دې د مخالفینو په ګډون د یوی پراخې عنعنوي جرګې جوړیدو ته پلان ترتیب کړي ترڅو په مخالفتونو رغنده بحثونه وشي او سولې ته د رسیدلو لاره لنډه کړي.

په همدې حال کې په دې اړه د چارو یوشمیر کارپوهان وایي چې د ټاکنو په ترسره کیدو کې د هیواد علما او مذهبي شخصیتونه، ستر رول لوبولای شي.

بل خوا بیا د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري چارواکو ویلي دي چې ښایي د ولسمشریزو ټاکنو په دوهم پړاو کې هم ستونزې شتون ولري، خو په کار ده چې له تیرو درسونو څخه ګټه واخیستل شي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري چارواکي وایي چې د خلکو کمه ونډه، درغلي، د وخت کموالی او ناامني هغه ستونزې دي چې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون ښایي د ولسمشریزو ټاکنو په دوهم پړاو په ترسره کولو کې هم ورسره مخامخ شي. د دغې اداري یوه مسول نووا کوبرن تیره اونک د یوه خبري کنفرانس په ترڅ کې وویل چې د ولسمشریزو ټاکنو په دوهم پړاو کې به د خلکو ونډه له دې امله کمه وي چې په لومړي پړاو کې د ولایتي شوراګانو کاندیدانو هم ډیر خلک رایې ورکولو ته هڅولي وو.

کوبرن چې د زمري د میاشتې د ولایتي شوراګانو د ټاکنو په اړه یې د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري راپور وړاندې کاوه، د یوې پوښتنې په ځواب کې دوه اونۍ وخت هم ټاکنو ته د چمتوالي لپاره لږ وباله. هغې وویل:" تر ټولو لومړی دا چې زمونږ د څیړنې یوه نتیجه دا وه چې ډیرو خلکو په انتخاباتو کې د سیمه ییزو لأملونو له مخې هم ګډون وکړ. د ولایتي شوراګانو ډیرو کاندیدانو خلک په انتخاباتو کې ګډون کولو ته وهڅول، زه فکر کوم له همدې امله چې ډیر خلک لومړي دور انتخاباتو زړه توري کړي دي، په دویم دور کې به د خلکو ګډون ډیر لږ وي. زه په همدې نظر یم.

نوموړې د درغلیو په اړه وویل چې د ټاکنو لپاره دوه اونۍ وخت یوه لویه ستونزه ده او په وینا یې پوهیږي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون اوس ډیر سخت کار کوي ترڅو ځینې دغه ستونزې هوارې کړي.

په همدې حال کې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون چارواکي بیا وایي چې د ولسمشرک د ټاکنو دوهم پړاو ته یې چمتوالی له پخوا څخه د کاري پلان یوه برخه وه. دغه کمیسیون وایي چې د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټاکنو لپاره یې ولایتونو ته د لوژیستیکي موادو رسول پیل کړي دي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون یوه غړي فضل احمد معنوي ازادۍ راډیو ته وویل چې دوهم پړاو ټاکنې به هم د ټولو خواوو همکارۍ ته اړتیا ولري.دی وایي: "مونږ هیله من یو په دغه لنډه موده کې هم د ټولو ملګرو همکاري ولرو. دا یوه ملې پروسه ده او ټول افغانان باید له مونږ سره په بیلابیلو برخو کې مرسته وکړي." نوموړې دا هم وویل چې که څه هم وخت کم دی خو دوی باوري دي چې لا ښې ټاکنې به ترسره کړي.

# ماین پاهایم را گرفت؛ اما خداوند متعال امید تازه ای برایم داد

**نویسنده: نصیبه عالمیار**

قبلاً تماس تیلفونی گرفته بودم، ساعت تقریباً ده قبل از ظهر بود که بار دیگر برایش تیلیفون کردم، با معذرت گفت "نمی توانم ملاقات کنم"؛ اما هر طوری شده من باید او را می دیدم. از موقعی که از شجاعت او خبر شده بودم، آرام نداشتم. این دختر معیوبی که هر دو پایش را در یک حادثه راکتی از دست داده است، چگونه داکتر شده و مریضان و معیوبان مثل خودش را تداوی می کند. مصصم شده بودم تا او را ببینم و درباره اش بنویسم.

باز برایش تیلیفون کردم. ساعت دوازده چاشت قرار ملاقات در شفاخانه صلیب سرخ گذاشتیم. ساعت ۱۲ قبل از ظهر را نشان می داد و من از ساعت یازده قبل از ظهر انتظاراو را پشت پنجره های شفاخانه اورتوپیدی علی آباد، مقابل لیلیه پوهنتون کابل می کشیدم. تا اینکه وی از آن طرف خط گفت کجا استی، با خوشحالی از دراز چوکی ای که مقابل دروازه شفاخانه گذاشته شده بود، بلند شدم و گفتم پشت دروازه ایستاده ام. چشمانم تا چند دقیقه او را می پالید. نمی دانم چه گونه و از کدام راه آمد، نمی دانم. درست مقابل چشمانم وآن طرف دروازه با خواهر خوانده اش ایستاده بود. چپن سفید روی لباس هایش که رنگ مایل به نارنجی داشت پوشیده بود، عصای پلاستیکی به دستش بود. قدش بلند، نگاهش صمیمانه و لبخند بر لبانش. با اشاره، دروازه بان را فهماند که مرا اجازه دهد. دروازه بان سراپایم را نگاه کرد و بعد با گفتن این جمله که "به احترام خود شما! وگر نه کسی حق ورود را ندارد" دروازه را به رویم بازکرد. با عجله واردشدم، همراهم دست



پرسی کرد، دستان گرمش مهربانی خاصی داشت. در یک لحظه فکرکردم سال هاست با من آشنایی دارد. دختر دیگری که دستش را گرفته بود و وی را همراهی می کرد دوست و همکارش بود و بعد از معرفیش با من، ما را تنها گذاشت و رفت.

ماه پیکی، آواز مهربانی داشت. گرمی صدایش هرکس را وا می داشت تا حرف هایی از او بشنود. وی با عصا آرام آرام راه می رفت. در کنارش راه می رفتم، وی چنان با متانت قدم بر می داشت که گویی کاملاً سالم است. تا رسیدن به محل کارش راهی نسبتاً طولانی بود. حرف زده حرف زده دورادور ساختمان را عبور کردیم و در گوشه ای از حیطه شفاخانه، اتاق بزرگی قرار داشت. دم دروازه که رسیدیم عقب عقب رفت، دیدم دستگیر دروازه را می چرخاند، کمکش کردم، دروازه باز شد، وقتی داخل اتاق شد از دیوار اتاق محکم گرفت شاید خسته شده بود، دعوتم کرد تا بنشینم. خودش دروازه را بست و آرام آرام روی چوکی ای که در وسط اتاق گذاشته شده بود، نشست.

اتاق بزرگ بود، مقابل دروازه آیینه بزرگ قد نما نصب شده بود، طرف راست اتاق پرده های سفیدی آویزان شده بود وآن طرف پرده میزهای بزرگ شبیه میز معاینه قرار گرفته بود، اندازه اتاق در حدود هشت متر می رسید، اطراف را نگریستم یادم نیست که دو و یا سه میز پشت پرده گذاشته شده بود و میله بزرگ فلزی مقابل میزها وکنار دیوار، جا به جا شده بود گویا وسایل اورتوپیدی بود.

در گوشهٔ دیگر از اتاق چندین دانه پاهای مصنوعی به دیوار تکیه داد شده بود و در همان ردیف سه چهار چوکی قرار داشت.

چادرآبی کمرنگش را جم و جورکرد، عصایش را کنار میز گذاشت، هر دو دستش را حلقه کرد و بالای زانوهایش گذاشت. معصومانه گفت: "کسی را در این جا اجازه مصاحبه نمی دهند و اگر تیپ ریکاردر تان را پنهان کنید بهتر خواهد بود."

گفته اش را عملی کردم. بعد ازش پرسیدم چند ساله است، بدون معطلی پاسخ داد: "نامم ماه پیکی است، ۲۰ ساله هستم و سال دوم در بخش آی سی آرسی هستم، هم درس می خوانم و هم بعد از ظهرها عملی کار می کنم. در قره باغ کابل به دنیا آمده ام، اکنون در ساحه میدان هوایی در شهرکابل زنده گی می کنم."

زود زود و کوتاه کوتاه پاسخ می داد. طاقت نیاوردم از معیوبیتش پرسیدیم که چی وقت و درکجا پاهایش را از دست داده است. کمی آرام گرفت، لبخندی در گوشه ای از لبانش نقش بست؛ با حرکت دست به حرف هایش ادامه داد: "خیلی کوچک بودم و تازه بهار نهم زنده گی را پیش گرفته بودم که زنده گی درس سختی برایم داد و آن زمانی بود که ... تازه چند ماهی از شهادت پدرم می گذشت، هنوز از غم او فارغ نشده بودیم که همه جا را دود و آتش گرفت، صدای کسی به کسی نمی رسید، مردم همه می دویدند، کسی نمی دانست کجا می رود؛ فقط همه یک هدف داشتند تا از آن محل فرار کنند. مردم قره باغ به سرک رسیده بودند و یکی یکی از محل جنگ دور می شدند. یک طرف جنگ طالب و طرف دیگر جنگ افراد احمدشاه مسعود بود. صدای فیر توپ و تفنگ مردم را سراسیمه کرده بود، اطفال و زنان با یک جوره لباس از خانه ها بیرون شده بودند و آرزو می کردند زودتر از محل بیرون شوند.

نمی دانم چگونه و چه طور موتر پیدا شد و ما همه اعضای خانواده راهی خانه خاله ام در خواجه رواش کابل شدیم. نمی دانم چی وقت آن جا رسیدیم. درست همه چیز را به یاد ندارم؛ اما همین قدر یادم است که آرامش همه جا را فرا گرفت، دیگر صدای شلیک توپ و تفنگ به گوش نمی رسید. هنوز ساعاتی از آمدن ما نمی گذشت که با دختر خاله ام که هم سن خودم بود به کوچه برآمدیم."

ماه پیکی دیگر چیزی نگفت. گوشهٔ چادرش را به انگشتانش تاب و پیچ می داد. اندکی بعد، یک بار هر دو دستش را روی زانویش گذاشت و ادامه داد: "صدای مهیبی بلند شد. دود و خاک همه جا را گرفت و دیگر نفهمیدم که چی گپ شد. بعد از چند روزی روی تخت چپرکت یک شفاخانه قرار داشتم و زنده گی برایم پایان یافته بود. دیگر در وجودم چیزی باقی نمانده بود. دو پا، دو عضو مهم بدن خود را از دست داده بودم؛ امید زنده گی از من کوچ کرده بود، مایوس و مثل یک لاش در گوشهٔ از اتاق قرار گرفته بودم. با هیچ کس حرف نمی زدم. آرام، بل بل به هر طرف نگاه می کردم. دو سال را به همین منوال سپری کردم؛ هم سن و سالانم هر روز هر طرف که دل شان می بود می رفتند و می خندیدند؛ اما من هر روز لاغر و نحیف می شدم. بارها و بارها به فکر فرو می رفتم نمی دانستم چه کنم. با دو دست لاشم را این طرف و آن طرف می کشیدم و با این کار به خود می بالیدم که شهکار کرده ام. روزها می گذشت و من همین طور زنده گی می کردم، تا این که خداوند راه را برایم بازکرد، امید را در دلم جا داد و تا این سرحد رسانیدم که اکنون همه مرا داکتر می گویند."

ادامه در صفحهٔ هفتم